**د اسلامي بانکوالۍ تاريخچې ته لنډه کتنه**

اسلامي بانکوالي د 1970 زیږدیز کال کې په لومړنۍ بڼه را منځته شوه او د 30 کلونو په ترځ کې يې پراخه وده وکړه. لومړی اسلامي بانک په 1963 زیږدیز کال کې د مصر په یوې لېږې پرته سیمه کې پر کار پیل وکړ.

وروسته په 1975 زیږدیز کال کې د پرمختیایي اسلامي بانک بنسټ کېښودل شو چې بنسټیزه موخه يې په ټولنیزو او اقتصادي برخو کې پر مختګ و. همدا شان د دوبی اسلامي بانک د بانکوالۍ د لومړي قانون پر بنسټ په همدې کال کې په منځني ختیځ کې رامنځته شو او د مالیزیا پارلمان د اسلامي بانکوالۍ قوانین تصویب کړل او له هغې وروسته په 1984 زیږدیز کال کې د سوډان هېواد اسلامي بانکوالي په خپل هېواد کې دود کړه. په 1985 زیږدیز کال کې د اسلامي هېوادونو فقهي شورا OIC د بشپړې اسلامي بانکوالۍ نظام د بیمې د سیستم د پر مختګ لپاره رامنځته کړ او په 1989 زیږدیز کال کې د سوډان د بانکوالۍ نظام په بشپړه توګه اسلامي بانکوالۍ ته بدل کړ.

په 1991 زیږدیز کال کې د AAOIFI د حساب ورکونې او څارنې مالي مشورتي بنسټ د اسلامي بانکوالۍ د معیارونو د رامنځته کولو لپاره رامنځته شو.

باید ووېل شي چې په افغانستان کې هم له تېرو شلو کلونو را هیسې د اسلامي بانکوالۍ د پرمختګ لپاره هڅې پیل شوې دي او تر دې مهاله په دې برخه کې پرمختګونه شوي دي.

دا مهال د افغانستان بانک په اډانه کې د اسلامي بانکوالۍ په نوم ځانګړی آمریت شتون لري چې د دې آمریت په چوکاټ کې ډېر شمېر کارکوونکي په بېلابېلو برخو کې پر دندو بوخت دي.

همدارنګه دا مهال په هېواد کې یو اسلامي سوداګریز بانک ته د پوره او بشپړ د فعالیت جواز ورکړل شوی دی او په نورو سوداګریزو بانکونو کې د اسلامي بانکوالۍ شعبې او څانګې شتون لري. د افغانستان بانک د هېواد بانکدار په توګه هڅه کوي چې د دې بانکوالۍ د پراختیا لپاره ټول اړخیزې هڅې وکړي او په دې برخه کې لازم پرمختګونه رامنځته شي. یادو شویو ټکو ته د کتو له مخې د اسلامي بانکوالۍ ځانګړنې په لاندې توګه وړاندې کیږي.

**برابروالی:** د اسلامي بانک بنسټ پر عدالت او برابروالي ولاړ دی او د پیسو ورکوونکي (Depositors) او پانګه اچوونکي (Investors) تر منځ پوره عدالت او انصاف مراعاتوي، ترڅو کومه ستونزه رامنځ ته نه شي، یعنې ګټه او تاوان يې سره شریک وي.

**ګټورتوب:** په اسلامي بانکي سیستم کې ملاتړ یا (Financing) د کار یا پروژې پر اغېزمنتوب ولاړ دی او یوازې هغو پروژو ته پانګه ورکول کیږي چې ډېره ګټه ولري، څکه چې بانک يې په ګټه او تاوان کې شریک دی.

**اقتصادي پیاوړتیا:** څرنګه چې په اسلامي بانکي سیستم کې د پیسو برابرونه (Deposit) او د پیسو په کار اچونه (Investment) د ګټې او تاوان د شریکولو پر بنسټ ولاړ ده، نو څکه پوروونه (Liability) او شتمنۍ (Asset) دواړه بدلون منونکي دي او ثابته بڼه نه لري چې په دې کې تل تعادل او برابروالی شتون لري.

**اقتصادي پرمختګ** (Growth): اقتصادي پرمختګ هغه وخت شونتیا لري چې د نوې تکنالوژۍ او پرمختللې بشري منابع پر بنسټ د یو هېواد یا اداري وسایل په بڼه توګه وکارول شي، ترڅو تولید زیات شي چې په دې کار سره د خلکو د ژوند کچه لوړیږي.

**د اړیکې نیول:** بله مهمه ځانګړتیا چې د اسلامي بانکوالۍ د پرمختګ بنسټ جوړوي له امانت ایښودونکو سره د اړیکې ساتنه ده. اسلامي بانکونه له خپلو پېرودونکو سره د پانګې اچونې پر بنسټ معامله کوي، نه دا چې مخکې له مخکې د سود او ګټې یوه ټاکلې کچه وټاکي.

سرچینې:


١ – بانکداری اسلامی https://dab.gov.af/index.php/dr/node/1958

٢ – اسلامي بانکوالي او ځانګړتیاوې https://ps.wikipedia.org/wiki

3 – Islamic Banking & Finance https://www.islamic-banking.com/explore/islamic-finance/shariah-rulings/question-answers-shariah-rulings/islamic-banking-finance